






محب الرحمن « خطیبي »

د نشر نیټه : ۱۲ می ۲۰۱۴ میلادی

# مــور جانی



ستا ژوندون راته ژوندون دی ستا دیدن راته بـــــــــهار

بی لتا مــی زړه محزون دی زړه می تـــا سره قرار

ستا په پيو باندي لوي شوم په ښو بدو هم ښه پوي شوم

تا راکړی مـــــا تـــــه مینه تا ښودلی مـــا تـــه لار

ښنګ ته ناسته زما په خواه وي که زه ويښ وم يا بيده

ته می هر درد ته دوا وی که زه روغ وم یا بیـــــمار

تا ګـــاللی زحـــــــمتونه چه زه لوی شــــمه نامداره

تاله ځا ن کړل ورک خوبونه چه زه نه اوســـمه خوار

پروت ستا پښو ته پاك جنت دي ستا ساتنه لوي عزت دي

هر خواه ګورم ستا صفت دي ځکه ته ی زمونږ حقدار

زه محب ستا په ثنا يم ګراني موري زه دي ستايم

خوښ پدي يمه چه وايم ځان می تا نه کړمه ځا ر

*****

۲۹\۱۲\۱۹۹۳

محب الرحمن « خطيبي »

بارګشت به صفحه اصلی - www.said-afghani.org